VERMONT
DEPARTMENT OF HEALTH

# سېلابونه کولی شي ککړ کړي
# ستاسو څاه یا چینه

په دې پاڼه کې ورکړل شوی مالومات د استوګنې د شخصي اوبو د نظامونو (څاه ګانې او چینې) لپاره دي. که تاسو خپلې د استوګنې د څښلو اوبه د کوم شخصي ډنډ یا د اوبو د سطحي سرچینې څخه ترلاسه کوئ، نو **دغه اوبه مه کاروئ او** د جابېرېال د ساتنې ځانګې د ځایي انجینر سره د لارښوونې لپاره (په انګلیسي کې) اړیکه ونیسئ.

که تاسو د اوبو بیل تادیه کوئ، نو تاسو عامه اوبو کاروئ. مهرباني وکړئ د نورو مالوماتو لپاره د ورمونټ د طبیعي سرچینو اداری د سېلابونو څخه د بیاباداونې [Vermont Agency of Natural Resources Flood Recovery] ویبپاڼې (په انګلیسي کې) ته لاړ شئ.

**که سېلابي اوبه ستاسو څاه یا چینې ته رسېدلې وي نو دا وګڼئ چې ستاسو اوبه ککړې دي، او تر هغه یې د څښلو لپاره مه کاروئ ترڅو درته مالومه شي چې خوندي دي.** کېدی شي د سېلابونو څخه وروسته اوبه د څښلو، پخولو یا پاکولو لپاره خوندي نه وي. د سېلابونو په اوږدو کې او وروسته، شخصي څاه ګانې او چینې د بیکټریا، مایکرواورګانیزمونو او د نکاسی د نظام د ککړتیاو، د تودولو تېلو، زراعتي او صنعتي فضله موادو، کېمیکلو، او نورو شیانو له امله ناولې شوې وي او کولی شي خطرناکې ناروغۍ رامنځته کړي.

## ستاسو د څاه یا چینې تر څنګ سېلابونه

**د خپلې څاه یا چینې څخه اوبه مه کاروئ ترڅو تاسو ټیسټ کړې نه وي او تاسو ته مالومه شي چې دا خوندي دي،** په ځانګړي توګه که:

- دا په سېلابي اوبو پوښل شوې وه یا سېلاب ته نژدې وه
- دا خوړ یا د تېلو یا کېمیکلو په شان بوی لري، یا د تېلو یا کېمیکلو شکمنو توییدو ته نژدې وه

## د سېلابونو د اغېزو لپاره خپل د اوبو د نظام معاینه وکړئ

که چیرې تاسو ته د سېلابونو په اوږدو کې دغه سیمه په نظر نه راتله، نو په دغه سیمه کې د ملبې او ختې او پر څاه یا په چینه کې د اوبو یا ختې د داغونو کتنه وکړئ. دا نښې نښانې دي چې ستاسو نظام د سېلاب ترلاندې و.

1. که خوندي وي، نو د برېښنایي برخو معاینه وکړئ:
   - د برسېره/زیانمن شویو تارونو یا برېښنایي برخو کتنه وکړئ.
   - وګورئ چې آیا کومو برېښنایي برخو ته اوبه ننوتلې دي. برېښنایي تارونو سره مه لمس کوئ.
   - که چیرې هغه برېښنایي کنکشنونه یا کنټرولونه ډوب وي کوم چې د څاه د سر یا د چینې د بوکسې څخه بهر وي، نو پمپ مه چالانوئ ترڅو سېلابي اوبه ښکته شوې نه وی.
2. د اوبو د نظام د زیانمن شویو ساختماني برخو کتنه وکړئ.
   - د څاه د سر کتنه وکړئ – د څاه کوږ شوی/چاودلی سر کولی شي اوبه، خټه او ملبه څاه ته ننوتو ته پرېږدي او د ککړتیا خطر زیات کړي.
   - د څاه د سر او سیل کتنه وکړئ ترڅو ډاډ ترلاسه کړئ چې د څاه د خول سره په خوندي توګه تړل شوې دي. کېدی شي خټه او ملبه څاه ته د څاه د سوست سر له لارې ورننوځي.
   - د چینې د بوکسې د ټایلونو او ساختماني برخو کتنه وکړئ ترڅو مالومه کړئ چې سیل شوې دي او پرځای دي.

## که چیرې ستاسو څاه یا چینه سېلابونو اغېزمن کړې وي

1. ترڅو ستاسو د اوبو ټیسټ نه وي شوی، دا د دې **لپاره مه کاروئ:**
   - ښنل
   - پخلی کول
   - لوښي مینځل
   - جوس یا واوره جوړول
   - مېوې او سبزیاني مینځل
   - غاښونه پاکول
   - د ماشومانو فارموله چمتو کول
2. اوبه له یوې معلومې خوندي سرچینې څخه ترلاسه کړئ.
   - د خواړو خوندي لوښي د مالومې خوندي سرچینې، لکه د ښاروالۍ کتابتون، د ښاروالۍ تالار، د اوروژني ځانګې، ښوونځي، کلیسا یا د ښاروالۍ له دفتر څخه د اوبو نه ډک کړئ.
   - د بوتل اوبه اخلئ.
   - د زیاتو اوبو راوړونکي څخه اوبه واخلئ او د اوبو یو ټانک ترینه ډک کړئ. د [زیاتو اوبو راوړونکو نوملړ](#) مالوم کړئ یا "زیاتي اوبه راوړونکي ورمونټ" لپاره پر انټرنیټ پلټنه وکړئ.
   - که چیرې تاسو نه شئ کولی چې د مالومې خوندي سرچینې څخه اوبه ترلاسه کړئ، **نو خپلې اوبه تر یوې دقیقې** وخوټوئ ترڅو ترې بیکټریا او نور مایکرواورګانیزمونه مړه شي چې کېدی شي په دغه اوبو کې وي. مهرباني وکړئ په یاد ولرئ چې کېدی شي خوټېدونکي اوبه ځینې عامې سېلابي ککړتیاوې، لکه نایټریټ، زیات کړي، کوم چې په ځانګړي ډول د کوچنیانو ماشومانو لپاره ضررې وي. **د ماشومانو د فارمولې چمتو کولو لپاره خوټېدلې اوبه مه کاروئ.** اوبه مه خوټوئ که چیرې تاسو:
     - په خپلو اوبو کې د کېمیکلو نښې بوی کړئ یا ووینئ
     - فکر کوئ چې نژدې تېل یا کېمیکل توی شوي وو
     - ووینئ چې اوبه خړې او د ختو څخه ډکې دي.
   - خپله ککړه شوې څاه یا چینه د هغه اوبو څخه **مه** ډکوئ کومې چې اوبو راوړونکي درکړې وي. پرځای د دې، اوبه په خوندي لوښو کې وساتئ.
3. که چیرې ستاسو د څاه یا چینې ترڅنګ د تودولو تېل یا کېمیکل توی شوي وي، نو د توېیدو خبرتیا ورکولو لپاره [د ورمونټ د چاپیریال د ساتنې ځانګې (DEC) د توېیدو مدیریت](#) ته په کاري ساعتو (د سهار 7:45 - د ماځیګر 4:30) کې پر 802-828-1138 زنګ ووهئ یا د کاري ساعتو څخه وروسته پر 800-641-5005 زنګ ووهئ. **دغه اوبه مه ښنئ** که چیرې تاسو شک کوئ چې د تېلو یا کېمیکلو توېیدنې ستاسو پر څاه اغېز کړی دی یا ستاسو اوبه خوړ یا تېلو یا کېمیکلو ته ورته بوی لري.
4. د خپلو اوبو ټیسټ وکړئ که څه هم د دې ترڅنګ تېل یا کېمیکل نه وي توی شوي. د سېلاب څخه وروسته بیکټریا او نایټریټ د ښنلو د اوبو ترټولو عام ککړوونکي دي.

5. د اوبو د نموني اخيستلو څخه دمخه:

- د څاه د سر څخه چاپېره یا د چيني د بوکسي د دننه څخه کومه ښکاره ختې، لهي، او نوره ملبه لیرې کړئ.
- که چیرې ستاسو اوبه ختیني یا خړې وي، نو د بهر کومي سوري څخه چې نلکه ورته لګیدلي وي اوبه وبهوئ ترڅو اوبه رڼي او د ختو څخه پاکي شي. کېدی شي دا د 30 دقیقو څخه نیولې تر څو ساعتو یا ورځو پورې وخت ونیسي، او دا د څاه یا چینې پر غتوالي او ژوروالي او د ککړتیا پر کچه پورې تړاو لري.

6. که چیرې ستاسو د اوبو سرچینه په بیکټریا ککړه شوې وي، [نو خپله څاه یا چینه د جراثیمو څخه پاکه کړئ] وروسته ترهغې چې د سېلاب اوبه ښکته شي. که چیرې تاسو د خپلې څاه یا چینې د جراثیمو څخه پاکولو په لړ کې مرستې ته اړتیا لرئ، نو خپل [ځايي څاه کېندونکي] یا [د اوبو د معیار کارپوه] سره اړیکه ونیسئ.
7. **ترڅو د ټیسټ پایلې دا نه وي څرګند کړي چې بیکټریا یا نورې کومې ضررې ککړتیاوې شتون لري یا نه لري، دغه اوبه** د څښلو، پخولو، د خواړو چمتو کولو، د جوسو یا واورې جوړولو، غاښونو پاکولو، لوښو مینځلو، د ماشومانو فارموله/بوتلې جوړولو، یا د مېوو او سبزیانو مینځلو لپاره **مه کاروئ**.
8. که تاسو د اوبو د خراب شوي نظام بدلولو په لړ کې مرستې ته اړتیا لرئ، نو د پرېښلو او د پرېښلو څخه د معافیتونو په اړه د مالوماتو لپاره کوم [لیسانسه لرونکي څاه کېندونکي] یا خپل [ځايي انجینر] ته زنګ ووهئ.

**کېدی شي تاسو خپل د جراثیمو څخه د پاکولو نظام په لړ کې ستونزې لرئ.** **[خپل د جراثیمو څخه د پاکولو نظام په لړ کې د مرستې لپاره سرچینې مالومې کړئ]**

په دې پاڼه کې ورکړل شوې اړیکه تاسو په انګلیسي ژبه کې سرچینو ته رسوي. په بله ژبه کې د مالوماتو ترلاسه کولو لپاره، د طبیعي سرچینو اداري سره پر anr.civilrights@vermont.gov یا 7827-636-802 اړیکه ونیسئ.